پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۱/۰۲/۲۳

# د استاد رښاګل اریوبزي علمي فرهنګي هڅې

## او د کوچنیانو ادبیاتو ته یې پاملرنه

### لومړۍ برخه



**په دې مقاله کې به د استاد رښاګل اریوبزي بیوګرافۍ ته ځنګ، لومړی د ده پر علمي شخصیت او په هیواد کې دننه او تر هیواد د باندې د ده پر ترسره کړو علمي فرهنګي کارونو رڼا واچول شي او بیا به په ځانګړي ډول د ده پر هغو هڅو وغږېږو چې ده د کوچنیانو ادبیاتو په برخه کې ترسره کړې دي.**

**۱ ـ د استاد رښاګل علمي فرهنګي هڅې:**

استاد رښاګل اریوبزی زه له دیارلس سوه شپږ پنځوسم کال نه را په دې خوا پېژنم. دا هغه وخت وو چې زه د خپل لیسانس دورې په زدکړو باندې بوخت وم او دی مي مخامخ استاد و.

موږ څو تنو تولګیوالو ملګرو د درسي تجربو او مطالعاتو د تبادلې له پاره داسي یوه ډله جوړه کړې وه چې په فارغ وخت او یا تفریح ساعت کې به د کابل پوهنتون کتابتون ته د مطالعې او کتابونو د ترلاسه کولو له پاره تللو؛ یا به د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي په چمن کې کښیناستو، علمي خبرې او بنډار به مو کاوه. یوه ورځ مو د وخت د جمهور رئیس محمد داود د نوي جوړېدونکي تلویزیون پر پروګرام خبرې کولې، هر یو خپل نظر وایه، چا د تلویزوني خپرونو پیلېدل ډېر اړین ګڼل او چا د داسې پروژې د ترسره کولو خبره د حکومت له وسه وتلې خبره ګڼله؛ چې د خبرو په ترڅ کې کوم ملګري غږ وکړ:

«انډیوالانو! تلویزیون پرېږدئ، درځئ چې استاد رنا ګل راغی، که له موږ نه مخکې ټولګي ته ننوت، بیا ښه نه کېږي او...»

استاد رنا ګل په درسونو کې ډېر جدي و، خو خپل لکچر به یې تل په یوه مالګیني خندا سره پیل کاوه او د درس په ترڅ کې به یې یوه نیمه ټوکه هم کوله. تل به په مظبوتو او چټکو قدمونو سره روان و، خو صمیمیت او استادانه مهرباني یې زما هېڅکله نه هېرېږي. له دې خبرو سره به یې یوې لنډې پېژندګلوۍ ته هم سر ورښکاره کړو:

## رناګل اریوبزی څوک دی؟

رناګل اریوبزی د نولس سوه شپږ څلوېښتم کال د جون د میاشتې پر لومړی نېټه (۱۹۴۶/۶/۱) د افغانستان د پکتیا ولایت د اریوب ځاځیو ولسوالی په شاه محمد کلي کې زېږېدلی دی. لومړنی، منځنی او ثانوي زده کړې یې د کابل ښار په رحمان بابا لیسه کې سرته رسولي دي او په ۱۹۶۵ م کال له یادې لیسې فارغ شوی دی.

د نولس شوه شپږشپېتم (۱۹۶۶م) کال په وروستیو کې د وخت د پوهنې وزارت له یوه تحصیلي بورس نه په استفادې سره، د لوړوزده کړو له پاره د المان فدرالي جمهوریت ته تللی دی. د ژبې کورس او «د شتودین کولیګ» نه تر فارغیدو وروسته، په ۱۹۶۸ کال کې د فرانکفورت ښار د یوهان ولفکنګ ګویټې پوهنتون کې شامل شوی. د لوړو زده کړو اصلي مضمون یې ښوونه او روزنه او څنګځنې څانګې یې ټولنپوهنه او اروا پوهنه وې.

په نولس سوه دري اویایم میلادي کال (۱۹۷۳م) کال کې یې د ماسترئ ډیپلوم تر لاسه کړ. تر دې وروسته یو کال په المان کې د هسن ایالت د ښوونې او روزنې وزارت په مربوطاتو کې په کار بوخت شو. د ۱۹۷۴ کال په وروستی برخه کې خپل هیواد ته ستون شو او لومړی په کابل کې د سید جماالدین افغان د ښوونکو روزنې مؤسسه کې استاد مقرر شو. څه موده وروسته د کابل پوهنتون د ژبو او بشري علومو پوهنځي د ښوونې او روزنې ډیپارتمنت په علمي کدر کې ومنل شو.

له ۱۹۸۲ تر۱۹۸۸ پورې د ښوونې اوروزنې پوهنځي د ریاست دنده ور له غاړې وه. د ۱۹۸۸ او۱۹۸۹ ترمنځ د بهرنیو چارو وزارت د علمي څېړنو په څانګه کې په کار بوخت شو او په ۱۹۸۹کې د افغانستان علومو اکاډمی د بشري علومو ریاست په علمي کدر کې شامل شو. دلته یې څه موده کار وکړ، خو د خپل پوهنځي د اداري او استادانو د پرله پسې غوښتنو له امله، بیرته د کابل پوهنتون د ښوونې اوروزنې پوهنځي ته د استاد په توګه ولاړ.

د۱۹۹۱ کال په وروستی میاشت کې له هیواده پردیس او المان ته مهاجرشو. استاد اریوبزی اوس د جرمني په کسل ښار کې اوسېږي او کله ناکله یو څه لیکنې او ژباړې هم کوي.

دلته په اروپا کې د افغانانو تر ټولو ملي، علمي او غني بربېښنايي خپرونه «افغان جرمن انلاین پورټال» نومېږي چې ښایسته ډېره موده کېږي زه هم قلمي همکاري ورسره کوم او هم کله، کله د لیکنې پلاوي د یو غړي په توګه د مقالو، کتابونو او نورو مطالبو په خپرولو کې مشورې او مرستې ورسره کوم.

د همدې فرهنګي مرستو په لړ کې داسې هم وشول چې: یوه ورځ مې خپل ایمل پرانیست د «افغان جرمن انلاین پورټال» د اداري له خوا د لیدلو او په پورټال کې د پورته کولو له پاره څو مقالې او شعرونه رالېږل شوې وو، که ګورم چې یوه په کې د استاد رنا ګل اریوزي مقاله وه.

ما خپل ګران همکار او د پورټال غړي ښاغلي سید رحمن غوربندي ته زنګ وواهه او ومې پوښته چې:

تاسو ته پته شته چې رنا ګل اریوبزی چېرې اوسېږي؟

هغه وویل:

نه، موږ یې یوازې مقالې خپروو او بس.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دا کیسه همداسې پاتې شوه، د استاد اریوبزي مقالې به ما په پورتال کې انلاین کولې، چې په دې لړ کې استاد اریوبزي څه داسې مطالب د خپرېدو له پاره راولېږل چې ده له جرمني منابعو نه راژباړلي وو او هغه د کوچنیانو له پاره کیسې وې. څو کیسې مې چې خپرې کړې، نو چورت راولوېد چې ما خو د کوچنیانو پر ادبیاتو باندې کار کړی دی، ولې د استاد اریوبزي له خوا پر ژباړل شوو کیسو باندې څه ونه لیکم؛ هم به د کوچنیانو د ادبیاتو پر روان حالت یوه مقاله وراضافه شي او هم به وطنوال له دې خبر شي چې حتی استاد رڼاګل هم زموږ د وطن راتلونکی نسل (کوچنیان) نه دي هېر کړي؛ نو مې هوډ وکړ چې لومړی استاد اریوبزی پیدا کړم، د احوال او صحت پوښتنه یې وکړم، بیا به پر مقالې باندې کار پیل کړم. دا کار مې وکړ، استاد اریوبزي مې پیدا کړ، خبرې مو سره وکړې او دا مې هم ورته وویل چې ما هوډ کړی دی چې د کوچنیانو له پاره ستاسو پر ژباړل شوو کیسو باندې یو څه ولیکم.

د دوه زره شلم کال د فبرورۍ پر نهمه نېټه مې د همدې مقالې د بشپړېدو په پار استاد اریوزي سره د تلیفون پر مټ خبرې وشوې او د روغتیا د پو ښتلو تر څنګ مې څو ورې پوښتنې هم ورنه وکړې چې لنډیز یې دلته راوړم:

پوښتنه ــ په افغانستان کې مو څومره او څه ډول مقالې لیکلې دي او په کومو خپرونو کې مو چاپ او خپرې کړې دي؟

ځواب ــ سم خو مې په  یاد نه دي، خو کېدای شي د پنځوسو په شاوخوا کې مقالې به مې خپرې کړې وي چې د ټولو مقالو موضوع ښوونه او روزنه وه. زما دا مقالې به د هغه وخت په علمي مجلو کې خپرېدې چې د ځینونومونه یې دا دي:

ــ کابل مجله (دافغانستان د عامو اکادیمی خپرونه)،

ــ اجتماعي علوم مجله (د کابل پوهنتون خپرونه)،

ــ عرفان مجله (د ښوونې او روزنې وزارت خپرونه).

پوښتنه ــ دلته په اروپا کې ما ستاسو لیکنې په ځینو ویبپاڼو کې لیدلې دي، څومره شمې مقالې به مو تر اوسه پورې خپرې کړې وي؟

ځواب ــ بیا هم نه پوهېږم، شمېر یې رانه هېر دی، خو ښایي چې د پنځوسو یا شپېتو په شاوخوا کې به وي.

پوښتنه ــ زما له پاره تر هر څه په زړه پورې دا ده چې کوچنیان مو  هم نه دي هېر کړي او د هغوی له پاره مو هم کیسې پښتو ژبې ته راژباړلې دي. څنګه مو دې موضوع ته پام شو؟

ځواب ــ څنګه چې زما مسلک ښوونه او روزنه ده او په دې ښه پوهېږم چې که ماشومانو ته کیسې په خپله مورنۍ ژبه کیسې ولوستل شي له یوې خوا د هغوی استعداد ښه غوړېدای شي او له بلې خوا په مورنۍ ژبې هر څه ښه زده کولای شي. بله دا چې د کوچنیانو ادبیات په افغانستان کې یوه هېره شوې برخه ده، ځکه مې وغوښتل چې تر خپلې وسې پورې خپل دَین ادا کړم.

پوښتنه ــ تر اوسه پورې مو د ماشومانو او کوچنیانو له پاره څومره کیسې پښتو ژبې ته راژباړلې دي او له کومې ژبې؟

ځواب ــ دلته په جرمني کې مې تر اوسه اته (۸) کیسې له جرمني ژبې نه پښتو ژبې ته اړولې دي، ځینې یې خپرې شوې دي او څو نورې به یې ډېر ژر د خپرېدو له پاره ولېږم او په راتلونکي کې مې هم هوډ دی چې د ماشومانو او کوچنیانو له پاره د کیسو ژباړې ته ډېر وخت بېل کړم.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ